بسم الله الرحمن الرحیم

## د سیکولرېزم د پیل شوو غمیزو په اور کې څوک نه دي سوزېدلي؟!

(ژباړه)

تر یوې پېړۍ ډېر وخت کېږي چې نړۍ په یوه کنده کې لوېدلې او د سیکولریستي پانګوال نظام تر سیوري لاندې د یو نامعلوم برخلیک پر لور روانه ده، چې له مادیاتو پرته بل هېڅ شي ته درناوی نه لري او یوازې د منفعت په لټه کې ده. د دغه واکمن نظام تر سیوري لاندې ظلم، بېکاري، د ژوند په مختلفو برخو کې فساد او تورم وروستۍ کچې ته رسېدلي دي. همدارنګه دغې ایډیولوژۍ پر نړیوالو ورځ تیاره کړې او له بې شمېره غمیزو سره یې مخ کړي دي. د امریکا په ګډون په ډېرى هېوادونو کې اقتصادي ناورینونه اوج ته رسېدلي دي.

نړیوال اقتصادي ناورین په ۲۰۰۸ م کال کې رامنځته شو. ډېرو کسانو دندې پرېښودې او ډېرى شرکتونه سقوط شول او اغېزې یې تر نن ورځې پر ځای پاتې دي. دغه اقتصادي کړکېچ نور هم ډېر شوی او د امریکا پورونه تریلیونونه ډالرو ته رسېدلي دي. دا له اقتصادي زاویې د پانګوال نظام طبعیت دی او د ملتونو د زغم کاسه نوره ډکه شوې او موړ ولیدل چې په ټولو لویو وچو کې خلک واټونو ته راووتل او لاریونونه یې وکړل. دغه رامنځته شوي ټول اقتصادي او سیاسي کړکېچونه د پلي کېدونکي نظام له امله دي، چې اوسمهال خلک ورسره لاس او ګرېوان دي.

په اروپا کې مو د ریاضتي حالت د اعلان په ترڅ کې لاریونونه ولیدل. د سیکولریزم په مور (فرانسه) کې مو ژېړ واسکټې کسان ولیدل، چې واټونو ته راووتل او په ورته لاریونونو کې یې ګډون وکړ. دوی د داسې حللارې په لټه کې وو، چې د سیکولرېزم د ظالم نظام له ظلم او تیري څخه یې وژغوري. هر کله به چې د دوی غږونه چوپ شول، یو ځل بیا به د اساسي حللارې په موخه را ووتل. افریقا، اسیا او په ځانګړې ډول منځنی ختیځ د لویو انقلابونو شاهد وو. دغه لاریونونه په تونس، مصر، لیبیا، یمن، سوریه او په دې وروستیو کې په ایران، عراق، الجزایر، سوډان او لبنان کې هم وشول. ایا په دغو ټولو هېوادونو کې د سیکولرېزم پانګوال نظام نه دی واکمن؟

د یادو هېوادونو واټونه او ښارونه مو ولیدل چې د اور غورځوونکو په شان وو. دا د سیکولرېزم ګټه او حللاره نه، بلکې دغه نظام د رامنځته شوو بدبختیو لامل دی او د نړۍ په ډېرى هېوادونو کې د دغه وحشي نظام د پلي کېدو په پایله کې د خلکو پر ناخوښیو او چیغو ټول نړیوال خبر شول.

که څوک دغه لاریونونه وڅاري، دا پیدا کولی چې ستونزه یوه ده او هغه مختلفې ستونزې چې اوسمهال خلک ورسره لاس او ګرېوان دي، له همغې یوې ستونزې (سیکولرېزم-پانګوال نظام) څخه سرچینه اخلي، چې دین یې

له ژونده بېل کړی دی. پر دې سربېره، تر ټولو دردونکې بیا دا ده چې د مسلمانانو ځینې دوکه او ګمراه شوي زامن په دغه شعار سره، چې سیکولرېزم حللاره ده، بیا هم د دغه چټل نظام غوښتنه کوي. که هغوی رښتیا هم د ناپوه او دوکه شوو کسانو له ډلې څخه وي، باید پوه شي چې په دغه ایډیالوژۍ کې خیر، غوروالی او حللاره نشته، بلکې د ټولو بدبختیو سرچینه همدغه پلی کېدونکی سیکولرېزم-پانګوال نظام دی. کومو کسانو چې پر سیکولرېزم قناعت کړی، هغوی ته د سیکولرېزم ستونزې او ناورینونه په هغو هېوادونو کې ښه څرګندېږي، چې دغه نظام پکې په پوره توګه پلی کېږي.

اوس مهال له هغو ټولو مسلمانانو او په ځانګړي ډول له ځوانانو څخه غواړو، چې د بنسټیز بدلون په رامنځته کولو کې مهم رول لري، چې خپل سیاسي او شرعي فکرونه جوړ کړي او د سیکولرېزم ملاتړي او پلي کوونکي لېرې وغورځوي. ځکه سیکولرېزم نظام په بشپړ ډول له اسلام سره په ټکر کې دی او پر مسلمانانو او په ځانګړي ډول پر ځوانانو د اسلام د سیاسي افکارو پېژندنه فرض ده.

پر همدې اساس، بیاهم وایو چې مسلمانان به په ژوند کې د نبوت پر تګلاره د اسلامي دولت له تاسیس پرته هېڅ نېکمرغي تر لاسه نه کړي، هغه دولت چې الله سبحانه وتعالی یې د تاسیس ژمنه کړې او رسول الله صلی الله علیه وسلم یې زیری ورکړی دی. هغه وخت به امت د ټولو ښېګڼو او خیر شاهد وي. دغه دولت به شریعت پلی کړي، ځکه چې له علیم او خبیر ذات څخه یې سرچینه اخیستې او د هغو بشري نظامونو په څېر نه دی، چې عاجز او کمزوري انسان جوړ کړي دي.

**د حزب التحریر ـ ولایه یمن مرکزي مطبوعاتي راډیویي دفتر ته**

**لیکوال: محمد طرموش**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**